afghanistan
justice
archive

DEC3.05.20.2025-B

Supreme Court ستره محکمه
21 May 2025 ·

په خوست ولایت کې شپږو متهمینو ته تعز/یري سزا ورکړل شوه
د خوست ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې جزا دېوان د پرېکړې له مخې د دوو ښځو په ګډون شپږو کسانو ته د زنا او لواطت په تور؛ په ۲۲/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.
جزا دېوان د یادو کسانو له ډلې درې متهمین پر پنځه ـ پنځه کاله تنفیذي بند او ۳۹ـ ۳۹ دُ/رو، دوه متهمین پر یو ـ یو کال تنفیذي بند او ۳۰ـ ۳۰ دُ/رو او شپږم متهم پر دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُ/رو تعز/یري سزا محکوم کړی و؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.
په دې موخه جوړې شوې غونډه کې مسؤولینو د ال/هي احکامو د تنفیذ او عملي کولو اړوند هر اړخیزې ویناوې وکړې.
پر متهمینو د تعز/یري سزا له تطبیق وروسته غونډه د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

